دافغانستان اسلامی جمهوریت
د انتخاباتی شکایتونو کمیسیون

جمهوری اسلامی افغانستان
کمیسیون شکایات انتخاباتی

Islamic Republic of Afghanistan
Electoral Complaints Commission

# مطبوعاتي خبرتیا

## د اګست څلورویشتمه، ۲۰۰۹

| | |
|---|---|
| د ټاکنو په ورځ او له هغې وروسته ټول رسیدلي شکایتونه | ۷۹۰ |
| ټول هغه شکایتونه چي ارزول شوي او الف ګروپ کي اولویت ورکړل شوی | ۵۴ |
| تر دي نېټي پورې ټول رسیدلي شکایتونه ( د ټاکنیزي دورې د منډو ترړو په شمول) | ۱۱۵۷ |

## د شکایتونو تنظیمول

- د رای ورکوني او رای شمیرني په جریان کي د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون د څیرني مرکز ته ۷۹۰ شکایتونه د اګست ۲۴ مي څلورو بجو پوري رسیدلي دي. له دي جملي نه ډیری شکایتونه د په مستقیم ډول د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون ولایتي دفترونو ته او یا په کابل کي د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون مرکزي دفتر ته سپارل شوي دي . او نور پاتي شکایتونه په کابل، غور او دایکندي ولایتونو د رای ورکولو په یو شمیر ځایونو کي ډک شویدي.
- د شکایتونو د اخذ او تسلیمی نه وروسته، شکایتونه ارزول کیږي او له دریو نه په یوه کتګوري کي ځای په ځای کیږي. د الف ګروپ شکایتونه هغه شکایتونه دي چي که چیری صحیح ثابت شي د ټاکنو پر پایلو اغیز کولای شي. د الف ګروپ شکایتونو ته د څیړلو او فیصلي لپاره اولویت ورکول کیږي.
- تر لاسه شوي شکایتونه مختلف او د یو کس لخوا صندوق ته د زیاتو رای پانو اچول، د رنګ بیرته پاکیدل، د رای ورکوني د کارکوونکو پر ضد تهمت په باره کي شویدي.
- دټاکنیزو شکایتونو کمیسیون څیرونکي د کندهار، غزني، وردګ، کندز، پکتیکا، پکتیا او بغلان ولایتونو د شکایتونو لپاره توظیف او ګومارلي.

## یادونه:

- ټاکنو د پایلو د اعلان لپاره، د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون باید لومړی ټول رسیددلي شکایتونه فیصله کړي.
- د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون د شکایتونو د څیرني مرکز د جلال اباد پر سرک د یونوکا په محوطه کي ځای په ځای دی. څارونکو، مطبوعاتو، او د ټاکنو نوماندانو استازي کولای شي هره ورځ د ماسپښین له ۲ بجو نه تر ۳ بجو له دي مرکز څخه لیدنه وکړي، البته یواځي د مخکي نه د تنظیم شوي لیدني په صورت کي،( مهرباني وکړئ د لیدني د تنظیم په موخه احمد مسلم خرم په لاندي لیکل شوی پته اړیکي ونیسئ.
- د ټاکنو خپلواک کمیسیون خپل داخلي کتونکي يې د رای ورکولو د ګډوډۍ د بیا کتني وظیفه پر غاړه لري.
- د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون هغو خلکو او ادارو ته چي غواړي شکایت درج کړي، د کرنلاري د حکم په اساس شکایت باید د واقع شوي درغلۍ نه وروسته په ۷۲ ساعتو کي د ننه ثبت شي. کوم شکایتونه چي د ټاکنو په ورځ د راي ورکولو په ځایونو کي ثبت شوي دي تر اوسه د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون د څیرني مرکز ته د رسیدلو په حال کي دي ځکه چي د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د انتقال پروسه جریان لري.

د افغانستان ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون یو خپلواکه او نا پیلي اداره ده چي د انتخاباتو د قانون د ۵۲ مي مادې په اساس را منځته شوی ده تر څو د انتخاباتو د پروسي اړوند ټول شکایتونه فیصله کړي. شکایتونه د تخطی نه وروسته په ۷۲ ساعتو کي د ننه باید ثبت شي. ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون ته په ټولو رسیدلو شکایتونو باندې به په منصفانه، روښانه او وخت فیصله وشي. د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون به جدي قضیي له اوله تر پایه څیري او کاندیدان او د دوئ پلویان باید د شکایتونو د پروسي نتیجي ته له صبر نه کار واخلي.

د لا زیاتو معلوماتو لپاره له احمد مسلم خرم سره په لاندې پته اړیکي ونیسئ:
احمد مسلم خرم
ahmad.muslem@ecc.org.af
+۹۳۰۷۹۸۱۸۸۶۰۵